Diijon DaCosta, Sr.، د بورډ رييس
آغلي Deirdre P. Pierce، مرستیاله رییسه
Anna Hill مېرمن
Whitney McGinniss مېرمن
Allyson Gevertz مېرمن
Vickie B. Turner مېرمن
Joyce Morley ډاکټره

DeKalb County School District

ډاکټر Devon Q. Horton، آمر

**د سمدستي خپرولو لپاره**

24 جولای 2024

**اړیکه:**
Donald Porter, *Ed.D.* 678-481-4110
Carla Parker 404-734-1717

## DCSD د زده کوونکو د ګمارنې پروژې څخه پرده لرې کړه؛ د مشورتي کمیټې د غوښتنلیک فرصت یې پرانیستلو

(STONE MOUNTAIN, GA) — د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ (*DCSD*) خوښه ده چې د خپلې هغې ویب پاڼې پیل اعلانوي چې د زده کوونکو د ګمارنې پروژې (*SAP*) او د ټولنې همکارانو لپاره د مشورتي کمیټې د غوښتنلیک فرصت پرانستلو جزیات لري ترڅو د ودانیو، سرحدونو او برنامو لپاره د SAP سپارښتنو په جوړولو کې برخه واخلي. په SAP مشورتي کمیټې کې د کار کولو لپاره د غوښتنلیک ورکولو فرصت له نن راهیسې تر د جمعې ورځ د سپتمبر 6مې نېټې پورې دوام لري.

د ښوونځي ولسوالۍ باید په هرو پنځو کلونو کې د سرحدي کړښو بیاکتنه وکړي او په هرو لسو کلونو کې د زده کوونکو د ګمارنې پروسه بشپړه کړي څکه چې دا غوره عمل ګڼل کیږي. برسېره پردې، د DCSD پروسه به د ESPLOST تمویل دورې سره سمون ولري ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د ټولو شریکانو غړونه د تمویل په لومړیتوب کې شامل دي.

آمر ډاکټر Devon Q. Horton وویل چې "موږ په بشپړ ډول د زده کوونکو د ګمارنې ټول شموله، مساوي او هراړخیزه پروسې ته ژمن یو کومه چې زموږ د ټولو زده کوونکو اړتیاوې په ګوته کوي". "دا 18 میاشتنۍ پروسه به زموږ ولسوالۍ په هغو طریقو بیا مجسمه کړي چې د هرچا لپاره د لوړ کیفیت زده کړې تضمینوي."

د DCSD لپاره، د جغرافیائی سیمو پر بنسټ ولاړې څلور مشورتي کمیټې به د ولسوالیو د معلوماتو او د ټولنې نظر په کارولو سره سپارښتنې رامنځته کړي. دا کمیټې د سیمې له مخې د الفبا په ترتیب سره په لیست کې نیول شوي دي:

- مرکزي: Druid Hills, Clarkston, Tucker, Stone Mountain
- شمال: Dunwoody, Chamblee, Cross Keys, Lakeside
- سویل ختیځ: Lithonia, MLK, Miller Grove, Redan, Stephenson
- سویل لویدیځ: Cedar Grove, Columbia, McNair, Towers, Southwest DeKalb

د دې پروسې له لارې، ولسوالۍ پلان لري چې د خپلو برنامو، سرحدونو او ودانیو په بشپړه توګه بیاکتنه وکړي ترڅو د زده کوونکو خدمتونو ته وده ورکړي. مشورتي کمیټې به د آمر او د پوهنې بورډ لخوا د بیاکتنې لپاره وړاندیزونه وړاندې کړي. مخکې له دې چې بورډ په سپارښتنو باندې رایه ورکړي، لومړني وړاندیزونه به اغیزمنو ټولنو ته د نظر لپاره وړاندې شي.

DCSD ټول اوسیدونکي هڅوي چې د زده کوونکو د ګمارنې پروژې د پروسې په اړه نور معلومات ترلاسه کړي او په مشورتي کمیټه کې د کار کولو لپاره غوښتنلیک ورکول په پام کې ونیسي. مهرباني وکړئ د نورو معلوماتو لپاره د DCSD د SAP ویب پاڼې څخه دلته لیدنه وکړئ. د SAP مشورتي کمیټهکې د کار کولو لپاره د غوښتنلیک وړاندې کولو په خاطر د دې څخه لیدنه وکړئ.

XXX